# په پښتو کښې دقطعه ليکنې تاريخي شاليد

**Keywords: - Pashto, Pashto Literature, Poetry, Qita, poem,**

محمد داود عربز ے [1]

## Abstract

There are many genres in Pashto poetry. Among them one is Qita. It is said that it is a part of encomium and poets started writing it in isolation. Actually, it is an independent genre. It is found in the classical Pashto literature. Initially it can be traced to a translation of a Qita by Abu Hashim Sarwani who translated a Qita of his teacher. Pashto literature has imported and adopted this genre from Arabic literature. This article deals with the etymology, historical background and evolution of Qita in Pashto literature.

لومړی به په دې رڼا واچو چې قطعه څه ته وئي او مفهوم ئې څه دے، بيا به په پښتو ادب کښې دقطعه ليکنې لنډ جاج واخلو او هم به ددې صنف ځينې لرغونې او معاصرې بېلګې راوړو.

شعر څېړونکي وائي چې دا دقصېدې دمنځ برخه ده ، چې په وخت او زمان سره دشاعرانو لخوا دهغه شعري صنف نه رابېله شوې او جلا يو صنف بلل شوې دے.

زما ددې څېړنې په کرښو کښې دا اړتيا ليدل کېږي چې ،دقطعې په تاريخي پس منظر باندې دبحث نه مخکې په دې بايد پوه شو چې ددغه صنف معنا او مفهوم څه دے ؟

(دقطعې جمعه قطعات ده اوځينې ئې مقطعات پۀ نوم هم يادوي،چې دامقعطه جمعه ده،چې زياتره پکښې اخلاقي، تعليمي، انځورګري،شکايت،غوښتنواونورو مطالبوته ځانګړې شوې ده) (1)

همدارنګه په يوه بله پېژندنه کښې لولو چې قطعه پۀ ساده اصطلاح کښې هغه نظم ته وايي چې ( دغزل يا قصيدې پۀ ډول جوړه شوې وي،خومطلع ونۀ لري، ياني له قصيدې اوغزل سره ئې توپير پۀ مطلع کېږي،چې پۀ قصيده اوغزل کښې مطلع وي اوپۀ قطعه کښې بيامطلع نۀ وي. ياقطعه هغه نظم ته ويل کېږي،چې مطلع ترې قطع يا پرېکړے شوي وي ،چې پۀ دې لحاظ ئې قطعه هم بولي.

-پي ايچ ډي سکالر پښتو اکېډيمي پېښور پوهنتون[1]

پۀ قطعه کښې لږ بیتونۀ دوه او د ډېرو ئې څه اندازه نۀ شته پۀ قطعه کښې پۀ عمومي ډول اوږده اولنډ هرډول مضامین بیانېداے شي.) (2)

همدارنګه دپښتو ژبې څېړونکے ډاکټر عارف نسیم خټک دخپل اثر پۀ پاڼو کښې لیکي چې: ( قطعه کم نۀ کم دوه شعره یا څلور شعره او زیات نۀ زیات بې شمېره اشعار کېدے شي.) (3)

دپورته متنونو نۀ دا پۀ ډاګه راځي چې قطعه دوه بیتونۀ نۀ دي بلکې تر دوو زیات هم کېداے شي او پۀ دې اړه ځانګړے قید کېښودل نشته ،بلکې دا دشاعر دموضوع پورې اړه لري چې پۀ څو بیتونو کښې خلاصه کېداے شي.

پوهاندلعل پاچا ازمون لیکي چې : ( هغه موزونۀ وینا چې دځلوریزې پۀ وزن اوبحرکښې وي ،مطلع ونۀ لري،که ځانګړې لیکل شوې وي،که دنظم کومه ټوټه وي،خوچې دځلوریزې پۀ څېرموضوعي تسلسل ولري،قطعه ده.) (4)

اریانا دایرة المعارف کښې راغلي چې ( قطعه پۀ لغت کښې دیو شي ټوټې اوپۀ ادبي اصطلاح کښې څو متحد الوزنۀ اومتحدالقافیه بیتونو ته وائي،چې مصرع مطلع ونۀ لري...دقطعې یوه ځانګړنۀ داده چې ټول بیتونۀ ئې یوه موضوع لکه حکمت،پند،ستاینۀ،غندنۀ او نور رانغاړي.) (5)

قطعه د رباعي سره لوے فرق دا لري چې پۀ رباعي کښې دبیتونو شمېر دوه دے چې لومړے ،دویم او څلورم بیتونۀ سره پۀ خپلو کښې هم قافیه وي.

پۀ قطعه کښې دبیتونو شمېر نامعلوم دے ،دقطعې صنف مطلع نۀ لري خو پۀ وروسته ټولو بیتونو کښې قافیه تکرار وي.

## په پښتو ادب کښې دقطعه لیکنې بهیر

مونږ په روڼ ډول ،دپښتو په لرغوني دوره کښې داسي شواهد په لاس لرو چې دا ترې ثابتېږي چې قطعه پښتو ژبې او ادب ته د عربي ژبې نه په مسقیم ډول راغلي ده او دا قطعه شعر د ابوهاشم سرواني البستي دخپل استاد دیوه شعر ژباړه ده چې د دواړو نموني زمونږ سره خوندي دي..

مونږ ته پټه خزانۀ دشیخ کټه له لرغوني پښتانۀ له پاڼو حال راکوي : ( ذکر د زبدة الفصحاء ابو محمد هاشم ابن زید السرواني البستي رحمة الله علیه... پۀ لرغوني پښتانۀ کښې هسي حکایت کا شیخ کټه رحمة الله علیه چې ابومحمدهاشم دهلمند پۀ سروان پۀ سنۀ۲۲۳ هجري قدسي زېږدېدلے او پۀ بست کښې ئې له علماء اوفصحاء لوستنۀ وکړه او وروسته ولاړ پۀ عراق ئې کلونۀ کلونۀ د لویو ائمه وو څخه سمع وکړه او ابن خلاد چې څرګندو پۀ ابے العیناء سره ئې پۀ بغدادکښې عمرونۀ تېرکړل اوله هغه ئې دعربي بلاغت او اشعار ولوستل او پۀ۲۹۴ هجري قدسي کال له عراقه بېرته راغے،درې کاله وروسته پۀبست کښې وفات شو،نقل کا : چې ابومحمدپۀ عربي اوفارسي او پښتو شعرونۀ ویل اوهغه وخت چې دده استاد ابن خلاد ړوندشو نو ده به ئې خدمت کا او دهغه څخه به ئې خواږه شعرونۀ

Pukhtunkhwa Journal

پۀ ادب کښې دعربي اوربېدل او ابو محمد له عربي ښخه پۀ پښتو دخپل استاد ډېرشعرونهٔ هم را اړولي دي.) (6)

له پورته نقل قول ښخه مونږ ته دا پۀ لاس راځي چې هاشم دهلمندپۀ سروان بُست سیمه کښې زوکړے دے، هملته لوے شوے او له علماو نهٔ ئې علوم زده کړي او د نورو زده کړو لپاره عراق ته تللے، هلته ئې دخپل عربي شاعر استاد ابن خلاد نهٔ زده کړې کړي، بېرته خپل هېواد ته راستون شوے او درې کاله وروسته پۀ سروان کښې پۀ کال۲۹۷ هـ کښې وفات شوے.

د هاشم بن زید کوم شعر چې مونږ ئې دلته دقطعي پۀ فورم کښې یادونهٔ کوو، هغه هم دپټې خزانې له پاڼومونږ ته را رسېدلے دے.

ژبـــــــه هم ښه وینا کاندي چې ئې وینهٔ
د خـــــاوند پۀ لاس کښې زر او درهمونهٔ
ژبـــــــــــــور ورله ورځي وینا ئې اوري
د درهـــــــــــم خاوند تل وي پۀ وياړونهٔ
که درهــــــم ئې ځنې ورک سو،سي نتلے
پـــــــــــــر نړۍ ئې وي پۀ خړو پېژندونهٔ
که بـــــــداے سوني وبولي خلک وايي
دا وینا ده رښتيانيه لـــــــــــــه رښتونهٔ
کـــــــــــــه بېوزلے ووايي رښتيا خبره
نـــــور خو وايي دا خو سوني دي تېرونهٔ
هـــــــــو درهم ښندي هر چا له لويه برخه
د درهـــــــــــــم د خاوند هر ځاے پرتمونهٔ
درهـــــــــــــم ژبه ده که ښوک ژبور کېږي
ده وسله که ښـوک پرې کاندي قتالونهٔ (7)

علامه حبیبي د ابن خلاد په اړه کاږي چې ( داسرے دعربومشهور ادیب اوظریف و،چې نوم ئې محمد بن القاسم یا ابن خلاد بن یاسر بن سلیمان اوکنیت ئې ابوعبدالله و، دے له لویو استادانو ښخه روایت کوي او ډېرمشاهیرلکه سولي او ابن نجیح او احمد بن کامل دده ادبي شاگردان دي، پۀ۱۹۱هـ پۀ اهواز کښې زېږېدلے او پۀ۲۸۲ یا ۲۸۳ هـ پۀ بغدادکښې مړ دے، پۀ ځوانۍکښې ړوند شوے وو،دعربي ډېر پاخه اشعارلري..) (8)

د ابن خلا د عربي شعر چې علامه حبیبي دپښتوادبیاتوتاریخ پۀ دویم ټوک کښې د یاقوت حموي د (معجم الادبا) د اووم جلد ۶۱ صفحې پۀ حواله رانقل کړے اوکټ مټ هماغه مفهوم اوموضوع وړاندې کوي،کومه چې زمونږ شاعر ابوهاشم سرواني ژباړلې.

مَــنْ كَانَ يَمْلِكُ دِرْهَمَيْنِ تَعَلَّمَتْ

شَفَتاهُ أَنْـــــــــــــواعَ الكَلامِ فَقَالا

وَتَـــــقَدَّمَ الفُصَحاءُ فَاسْتَمَعوا له

وَرَأَيْتَهُ بَيْنَ الـــــــــــوَرى مُخْتالا

لَـــــــولا دَراهِمُهُ الَّتي فِي كِيسِهِ

لَـــــــــــــــــرَأَيْتَهُ شَرَّ البَرِيَّةِ حالا

إِنَّ الغَنِيَّ إِذا تَكَلَّـــــــــمَ كَاذِبـــــــاً

قَالوا صَدَقْتَ وَمــا نَطَقْتَ مُحالا

وَإِذا الفقيرُ أَصابَ قالوا لَمْ تُصِبْ

وَكَذَبْتَ يا هـــــــــذا وَقُلْتَ ضَلالا

إِنَّ الـــــــدَّراهِمَ فِي المَواطِنِ كُلِّها

تَكْسُو الــــــــــرِّجَالَ مَهابَةً وجَلالا

فَهْيَ اللِّسانُ لِمَنْ أَرادَ فَصاحـــــــةً

وَهْـــــــــــيَ السِّلاحُ لِمَنْ أَرادَ قِتالا (9)

Pukhtunkhwa Journal

مونږ ګورو چې د ابو هاشم په دغه ژباړل شوي شعر کښې دعربي لغاتو څرک شته اوښکاره کوي چې دامهال په پښتوشعرکښې عربي لغات را دننهٔ شوي وو،خو د عربي لغاتوترڅنګ دپښتوسوچه اوخپل لغات ئې هم خوندي ساتلي لکه ویاړونهٔ، نتلــے، ژبور، ربښتون، تېرون، پرتم اوځيني نور.

دپښتوقطعه ليکنې پهٔ تاريخي بهيرکښې ترهاشم سرواني وروسته د لوديانوکورنۍ دوه کسان دیادولو وړ دي، يو ئې شيخ رضي لودي اوبل ئې نصرلودي.

دوے هم پهٔ خپل وارسره پښتوقطعي وويلې، شيخ رضي او شيخ نصردواړه دحميدلودي له کورنۍ څخه دي، شيخ رضي ئې زوے او نصرئې وراره دے.

پهٔ پټه خزانهٔ کښې راغلي چې نصرلودي پهٔ ملتان کښې ( د ملاحده له استازو سره کښيناست اوله دوے څخه ئې د الحاد اواسماعيلي فرقي عقايد زده کړل او وګروهېدے) کله چې ددې کورنۍ مشر

واکمن حمیدمړشو او نصرئي پرګدی کښېناست نوئي داسماعیلیه شعیه ګانویوه ډله دقرامطه په نوم راوستل،رضي لودي خپل تربورنصرته دا نظم ولیکه.

دالحادپـــه لــوردي تـــرپلل
ګـــروه دي زمـــونږوکوراوه
مـونـــږ رونـلـي پــــه زیارنه
تــــاپـــــــــــه تــور وتوراوه
لـرغـونـوولي ګـــروهېدلي
چـــــــي دي ګـــوښي اړاوه
هغه ګـروه دے اوس اړه کړه
چـــــــــــي پـــلرودي رڼاوه
لودي ستاپه نامه سپک شو
کـه هـــــــــــــرڅومودرناوه
نـصـره نــــه موئي له کهاله
لـــــــــــــودي نـــه ئي په کاوه
زمـونږ رغاده ستاله ګروهه
دورځ لـوے پــــــه رغـــــاوه (10)

پورته متن دا مفهوم ورکوي چي نصرد ملاحده چي داسماعیلي شعیه ګانویوه ډله ده،ورسره اړیکي پیداکړي اوډده په ویناله دینه واوښت یاوګروهید،خو کله چي بیانصرلودي دخپل تربره په ویناوتورخبرشونوئي دخپل سپیناوي اوپاکی په اړه هغه ته په ځواب کښي داشعرولیکه :

دالحادپــــه تـورتـورن سوم

زه لـــرغون خـوملحد نه یم

زما دښنه هسي تـورا کـړي

کــــــه ملحد یـم د دښنه یم

لـــــه اسلامـه نـــه تـــرپلمه

تـــورانــــــوڅخه په ترپله یم

ګـــروه مـي هغه لرغونی ده

اوس هم کرور په لرغونه یم

داسلام پــــه هسـک بـه ځلم

وتـــــــــــورانـــــــوته تیاره یم

دلـــودي ځـوے سنتي يم

دحميد لـه لـــوړ كهاله يم

تـــورانے دښمن چې وايي

زه لـــــــه گـروه پۀ اړه يم

دايے تـــورتـاسي دروهوي

زه مومن ستاسي پۀ تله يم

دډښـــــــنو ويناوې مغـږه

زه لـــودي يمه ځـو زه يم. (11)

په هر ډول د پورته تاريخي شواهدو په رڼا کښې دا روښانه شوه چې قطعه کله ،چا او څنګه پښتو ادب ته ديو صنف په توګه را دننه کړې ده.

دلودي كورنۍ دپورته دوه شعرونو په اړه به دا وضاحت اړين وي چې :

- پورته دواړه شعرونۀ دقطعي پۀ قالب کښې ليکل شوي چې دشېخ رضي لودي قطعه اووه بيتيزه ده اودنصرلودي هغه پوره نهه بيته ده.
- سره له دې چې دشېخ حميدلودي كورنۍ دپښتونخوا نۀ ليرې پۀ ملتانۀ كښې پراته وو خوهلته ئې هم خپل پښتني دود دستوراوكولتور ژوندے ساتلے.
- دا مهال دعربي د زيات اثر او رسوخ سره سره بيا هم دپښتو ډېرغني اوسوچه لغات مروج وو لکه: توراوه،رغاوه،گروهه،تريلل،روڼلے،دښنۀ،لرغون اونور،چې بيايۀ را وروسته كښې ئې يوشمېرله استعماله لوېدلي او اوس ئې پښتانۀ نۀ كار وي.

## د قطعي څو بېلګې (نمونې)

دكامګار خان خټک قطعه

سنۀ زرسـل پينځه شپيته ده

چـــــــې رحلت وكه كامګار

پس لـــــــه ډېنۀ پـۀ دې كاله

پـــلار دده وشــــــــه نامدار (12)

دكاظم خان شيدا قطعه

چي دانـــــهٔ ئي ددهقان پهٔ نصيب نهٔ وي

د اسيا دسنګ شررپـــــهٔ خرمن برق شي

تعجب مکړه پـــــــــــهٔ حال دتېره بختو

شنا ور که ئي پـــهٔ موج دسراب غرق شي (13)

دکاظم خان شيدا پهٔ دېوان کښې تر دې د ډېرو بيتونو قطعي هم شته،ان تر نهه او لسو بيتونو پورې پکښې ماليدلي.

زه چــــــــــي ژاړم فــــــــــريادله دله کړم

وچاته وايــــــــــــــــم فــريادله دله کړم

عقل مــــــي خاص دےځه مې ناکام دے

چې مئين زه شـــــــــــوم ګله له بــــله کړم

زه ئي محتاج کــړم درست ئي تاراج کړم

عقل که بند کــــــــــړم نغوته ئي کله کــــړم

خـــواجه مئين شوم پهٔ زړه دردمن شوم

چـــې يـــار را ياد شي آه له ګـوګله کړم (14)

د ادم خويشکي قطعه

چــــــــــي هسي دشيطان خويونهٔ زده کړه

نااميدبـــــــــــــــــــه شي له حوروله براق

مارخوړلے به ته هغه (ترهغه) پورې وبرې

ځــــــــــــــــــوک پاړو دارو راوړي له عراق

لابــــــــــــــــــــــــــــــه کله ديدن ورکړي

دادم کسي تــــک سپين شـــــــوه له فراق (15)

ښاغلي ډاکټرعارف نسیم خټک دعربي ژبي شاعرانو ابونواس اوابن الرقاق اوهم دپاړسي ژبي دمشهورشاعر سعدي شیرازي د قطعاتو ترجمه هم کړې اوپهٔ خپل اثرادبي تنقیدکښې ئې ځاےکړي دي.

دابو نواس قطعه

پهٔ اننګوئې ګوته،غاښ ئې پهٔ منه کیښودل

له خندا سره شوه چې منه ئې را ګزارکړه ماته

دښکلولـــــــــــــــــودابلنهٔ،خونده وره ښومره

ښکلےسپرلےشــــــــو د خزان غمونهٔ لاړل شاته (16)

د صاحب شاه صابرقطعه

ستا دښایست قیصه دې بیانوې شي

پـــــــــهٔ مادې بېرته لیونتوب راشي

زه دعمرونـو شـــــــــــــــوګیروځیلے

څنګل سنګ زنـهٔ کــړه که خوب راشي (17)

د پروفیسر رحمت الله درد

زه به اوده اوده جذبات را وېښ کړم

او تـــــــــــه د میني مې ناب راوړه

دځـــــــوانی تېــرعمربه بېرته راشي

زه غـزل وایم تـــــــــــه رباب را وړه (18)

''''''''

## حوالې


(1) شميسا،داکترسيروس، انواع ادبي،نشر ميترا،خيابان مجاهدين ،۱۳۸۶بهار،تهران،چاپ چهارم،۲۹۷مخ

(2) هاشمي،پروفيسورحميدالله شاه: فن شعرو شاعري اور روح بلاغت،مکتبۀ دانيال_ لاهور، ۱۸۸ مخ.

(3) نسيم،محمدعارف،ادبي تنقيد (ځني ځانګې،اړخونه) پښتواکيډيمي،پېښوريونيورسټي،جون،۲۰۰۷ع . ۱۸۰مخ

(4) ازمون،پوهنوال لعل پاچا،پښتونظم پوهنه،علومو اکاډمي اوکابل پوهنتون ادبياتو پوهنځے۱۳۹۷ل/۲۰۱۸م ۵۶۸ مخ

(5) اريانادايرة المعارف ځلورم ټوک،علومو اکاډمي،کابل۶۱۴-۶۱۵ مخونه

(6) هوتك،محمد: پټه خزانهٔ،دپوهني وزارت،دويم چاپ، ۱۳۳۹ ل کال، ۵۸ مخ

(7) پټه خزانهٔ،دويم چاپ،۶۰مخ.

(8) ډپښتوادبياتوتاريخ دويم ټوک،دپوهاندحبيبي۴۵۳مخ

(9) همدا پورته اثر۴۵۵مخ

(10) پټه خزانهٔ دويم چاپ۶۰مخ

(11) همدا اثر۷۲- ۷۳ مخونهٔ

(12)دکامګارخان ختک کليات،شننهٔ اوسپرنهٔ دمياوکيل شاه فقيرخيل،دانش خپرندويه ټولنه،۱۳۹۳لمريز۲۷۵مخ

(13) ديوان کاظم خان شيدا دهميش خليل پهٔ سريزه۲۵۲مخ.

(14) بنګش،خواجه محمدديوان،ترتيب اوتدوين دخيال بخاري،پښتواکيډيمي ،پېښوريونيورسټي،۱۹۶۵ع کال. ۱۵۱مخ

(15) نسيم،محمدعارف،ادبي تنقيد (ځني ځانګې،اړخونه) پښتواکيډيمي،پېښوريونيورسټي،جون،۲۰۰۷ع . ۱۸۰مخ

(16) ادبي تنقيد (ځني ځانګې،اړخونهٔ)۱۸۳مخ

(17) دصاحب شاه صابرکليات،د ذبيح الله شفق په زيار ،دانش خپرندويه ټولنه۲۵۰مخ

(18) درد،پروفيسررحمت الله،غزل،خورونکےعمردرازمروت،لکي مروت،۲۰۱۱ع،شپږم چاپ،۱۵۲مخ